پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

------------------------------


## ځما نیغه په نیغه خطاب طالبانو اودهغو ملاتړو ته دی!

که چیری غواړی چی له افغا نستا ن څخه با ند نـی اشغا لګر قوتونه اودهغو په سرکـی دامریکـی د متحده ایالاتو سړی وژونکـی او افغا ن وژونکـي نظا میان له افغانستان څخه پښـی سپکـی کړی اوپه ډیر نا امیدی سره له دی وطنه څخه ووځی نو اوس یی وخت دی چي تاسی د پښتنود تحفظ د غورځنګ سره لاس یوکړی او پنجا بی حاکما نو ته د خپل ټوپکونو خوله واوړی او په ډیر میړانه اود خپلو نیکه ګانو په شان خپل وطن له دی شر اوفساد څخه خلاص کړي اوهغه داچي که چیری له پاکستان څخه دغه د دیورند د کرښی هغه غاړی پښتا نه خپل آزادی تر لاسه کړی نو په هغه صورت کـی پاکستان دړی وړی کیږی او دپاکستان ددړی وړی کید و سره امریکایی اشغالګرانوته بله پلمه نه پاتي کیږی چي دلته ستا سو په هیوادکـی ترنامعلومه مودی پوري پا تـي شی او هم نور پاکستان ته به داموقع مساعد نشي چي دخپل دوه مخي اود بیزو بازی سیاست وچلوی **او له امریکـي څخه ډالر تر لاسه کړی نوکه چیری تاسی** په ریښتیا سره افغان یاستـی نو ولـی د پاکستان ددی ورستـی فیصلـی په مقابل کي کوم چي غواړی آزاد قبایل په پا کستان پوری وتړی ځان مو غلـی نیولـی اوهیڅ عکس العمل نه ښکاره کوي – ریښتیا ریښتیا دغه لوبه چي تا سی اوس مخ ته وړی په دی با ندی ځان پوه کړی چي بریا ته نه رسیږی او هر څومره چي وخت تیرشی ستا سی وطنوال لا پسی ناداره کیږی او پا کستا ن لاپسی بډا کیږی - نو ددی پورتنیو یادونو په نظر کي نیولو سره یو ځلـی خپل سرونه ګریوان ته ښکته کړی او ځان له دی تیاره او موهوما تو څخه وبا سی افغا ن وژنه هیڅ په درد نه خوری – اوتاسی به په بله دنیا کی به څه ځواب وو ایی -خدای خو تاسو ته عقل اوشعور ورکړی نو ولـی دښه اودبد ترمینځ فرق نشی کولای ،ځما حیرانتیا په دی کـی دی چي تاسی لاتر اوسه دغه پنجابی شادی بازان نه دی پیژندلـی کوم چی تاسی د خپل افغا نیت په دود پر بن لادن با ندی ودریدلی او هغه مو امریکـی ته تسلیم نکړ اما پاکستان دهغه ژوند دختمول په بدل کی له امریکـی څخه (5) کروړډالر تر لاسه کړ اوهغه یی داسی وواژل چي چا دهغه مړی هم ونه لیدل – دا ځما هغه سپینـی خبری وه چی ما تا سو ته وکړ - داسی دی ونشی چی یوه ورځ ستا سوماشومانو به پرتاسو به نیوکـی وکړی چي زمونږ پلرونه د پنجابی حاکمانو تر رهبری لاندی خپل وطن یی توټی توټـي کړ او پاکستان یی موړ کړ لکه چي همدا اوس پاکستان دافغانستان دجګړی له برکته دهستوی

*سلاح ځينيتن شو   هره ورځ دافغانستان  قميتي ډبري ( لاسي صنايع ، خوراکه مواد  او ډير نورشيان په قاچاقي بڼي سره له افغانستان څخه باسي اود پاکستان په نوم باندني نورو هيوادونو ته صادروي  - تولعنت دي په دي ډول اجيرو  افغا نا نو وشي  چي  لاتراوسه پوري  ددي انګريزي بچيا نو تر جغ لاندي هر ډول ذ لت او بدمرغي مني اودخپل وطن په بر بادي کي دهغو سره مرسته کوي .   تاسي کولای  شي چي دغه لاندني موثق سند ولولي چي بن لادن  څنګه خرڅول شوي دي .*   ***په ډير درنا وی***

## *متقاعد جنرال اسد دراني: د پاکستان پوځ اسامه بن لادن په ۵ کروړه ډالره خرڅ کړ*

*منبع : تاند*                    *تاريخ5/28/2018 :*




متقاعد جنرال اسد درانی

د پاکستان د پوځ د استخباراتي اداري پخوانی رئیس متقاعد ډګرجنرال اسد درانی د اسامه بن لادن په وژلو کې د پاکستان د پوځ د رول په اړه د يوه کتاب د ليکلو په خاطر د پوځ مرکزي قوماندانۍ ته د توضیحاتو د ورانديِ کولو لپاره احضار شوی دی.

جنرال اسد دراني، د (The Spy Chronicles) په نوم په کتاب کې، چې له يوه پخواني هندي استخباراتي چارواکي سره په ګډه يې ليکلی، ادعا کړې چې پاکستان اسامه بن لادن په ۵ کروړ ډالره خرڅ کړ.

د پاکستان د پوځ د عامه اړيکو د اداري مشر جنرال آصف غفور پر خپل ټوېټر ليکلي چې پوځ دغه متقاعد جنرال د مي په ۲۸مه ورغوښتی چې په راولپنډۍ کې د پوځ مرکزي قوماندانۍ ته ورشي او د پاکستان د پوځ د قانون له مخې د خپلو خبرو سپیناوی وکړي. پخواني لومړي وزير او د مسلم ليګ ګوند مشر نوازشريف هم د اسد دراني پر کتاب (The Spy Chronicles) د ملي امنيت د کميټې د عاجلې غونډې غوښتنه کړې او ويلي يې دي چې په کتاب کې د ګڼو مهمو مطرح شويو

مسلو په اړه باید غور او څېړنه وشي.




د پاکستان د مشرانو جرګې د تېرې دورې رئیس رضا رباني د جمعې په ورځ په سنا جرګه کې د اسد دراني پر کتاب سخته نیوکه وکړه.

رباني وویل«بوړنوونکې دا ده چې له یوې خوا د پاکستان او هند اړیکې تر بل هر وخت خرابې دي او له بلې خوا د دواړو هیوادونو د استخباراتو پخواني مشران په ګډه کتاب لیکي.»

له دراني سره دا څېړنیز کتاب د هند د استخباراتي ادارې (را) د څېړنې او شننې د څانګې پخواني رئیس اې ایس دولت لیکلی دی.




د رباني په وینا که د دراني پر ځای دا کار د پاکستان یوه ملکي سیاستوال کړی وای، اوس به د خائین او غدار ټاپې پرې لګېدلې وای.

د رباني اشاره د نوازشریف وروستیو څرګندونو ته وه چې له کبله یې د ملي امنیت د کمېټې غونډه وبلل شوه.

نوازشریف د هند د مومبۍ د ۲۰۰۸ کال د حملو په اړه دان ورځپاڼې ته په مرکه کې ویلي و«دلته د سختدریځو ترهګرو شبکې فعالې دي. دوی غیردولتي لوبغاړي بلل کېږي، ایا پکار ده چې هغوی پرېږدو څو له پولې واوړي او په مومبۍ کې ۱۵۰ تنه ووژني؟»

د رباني له څرګندونو وروسته د پاکستان د پوځ ویندوی وویل چې دراني یې د سپیناوي لپاره د پوځ مرکزي قوماندانۍ ته ورغوښتی دی.